# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**16حمل _سال 1402**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د مهاجرینو چارو وزیر د هزاره ګانو له مشرانو سره وکتل----------------------------------------------------------1
وزیر امور مهاجرین، باهیئت ریاست امر بالمعروف ونهی عن المنکر ملاقات نمود------------------------------------2
د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول ------------------------2
به ده ها خانواده درهرات کمک نقدی توزیع شد -------------------------------------------------------------------3
اروپايي ټولنه غواړي چې اروپا ته د کډوالو د راتګ د مخنیوي لپاره بلغاریا ته ۶۰۰ میلیونه یورو ورکړي------------4
لیتوانیا می‌خواهد که فرانتکس در حفاظت از مرزهایش با بلاروس سهم بگیرد---------------------------------------7
شش تن از یک بازداشتگاه اداری در جنوب فرانسه فرار کردند -----------------------------------------------------8
یک پناهنده سوریایی شهردار یک قریه در آلمان شد------------------------------------------------------------10
در بیش از یک سال ۱۴۵ شهروند افغانستان در مسیرهای غیرقانونی مهاجرت جان باخته اند ---------------------11

# متن کامل اخبار

## د مهاجرينو چارو وزير د هزاره ګانو له مشرانو سره وکتل

دوزارت ويب سايت



**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمان حقاني د ښاغلي اسدالله سعادتي په مشرۍ د هزاره قوم له استازو سره په خپل کاري دفتر کې وليدل**

**په دغه ناسته کې د هزاره ګانو په ستونزو او مشکلاتو خبرې وشوې**

**ښاغلي حقاني وويل په اسلامي نظام کې قومي، سمتي، تنظيمي او مذهبي تعصبات ځای نلري، افغانستان د ټولو ګډ کور دی او د افغانستان هر وګړی د بل په څېر محترم او د قدر وړ دی**

**نوموړي ډاډ ورکړ، چې ددوی مشورې، غوښتنې او ستونزې به له اړونده ارګانونو سره شريکې کړي او په اړه به يې لازم اقدامات ترسره کړي**

## وزیر امور مهاجرین، باهیئت ریاست امر بالمعروف ونهی عن المنکر ملاقات نمود

**ویب سایت وزارت**



**الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امور مهاجرین با هیئت ریاست امر بالمعروف ونهی عن المنکر ولایت کابل، در دفتر کارش ملاقات نمود.**

**هیئت مذکور درمورد کار و فعالیت خویش وموجودیت شماری از مشکلات توضیحات داد.**

**محترم حقانی، اجرآت اداره امر بالمعروف ونهی عن المنکر را در اصلاح ملت ارزنده خواند و در ر اجرآت یومیه بر ملایمت ومصلحت تاکید نمود.**

**وی به هیئت مذکور اطمینان داد که هرگاه در مقابل اجرآت ایشان در وزارت امور مهاجرین مشکلی وجود داشته باشد، در رفع آن همکاری جدی می نماید.**

## د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکره لیکونه لاسلیک شول

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت او اوو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.**

**د یادو هوکړه لیکونو مالي لګښت (۹) میلیونه، (۳۸۸) زره او ( ۷۸۸) امریکایي ډالره دی، چې له مخې به یې په کابل، هرات، فراه، غور، بادغیس، غزني، میدان وردګ، لوګر، بامیان، دایکندي،خوست پکتیا، پکتیکا او قندهار ولایتونو او شمال او شمال ختیځو ولایتونوکې د نغدي مرستو،لمریزې برېښنا، روزنیزو او حرفوي زده کړود مرکزونو جوړلو ، نیالګیو د اېښودو، د اوبو د کانالونو، کور جوړولو ، دوکانونو، ښوونځیو، روغتونونو ، پل او پلچکونو، استنادي دېوالونو او د باغدارۍ د وسایلو په برخه کې خدمات وړاندې کوي.**

**یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او ( WASSA, DRC, WSTA, ACHRO, DHSA) موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.**

## به ده ها خانواده درهرات کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**برای 94 خانواده درولایت هرات ازجانب موسسه اسلامیک ریلیف (رفاه اسلامی ) کمک نقدی به تاریخ 14 حمل رسانیده شد.**
**خانواده های یادشده قبلا درولسوالی پشتون زرغون شناسایی که پس ازآن به هریک از20 خانواده مبلغ 22 هزارو 125 افغانی و به 74 خانواده دیگر مبلغ 11 هزارو 375 افغانی ازجانب نهاد مذکور با حضور داشت نماینده اداره مهاجرین توزیع گردید.**

## اروپايي تولنه غواړي چې اروپا ته د کډوالو د راتګ د مخنيوي لپاره بلغاريا ته ۶۰۰ ميليونه يورو ورکړي

مهاجرنیوز




**ستیت واچ سازمان ته په لاس ورغلی یو لیک ښیي چې اروپایي کمېسیون غواړي چې اروپا ته د کډوالو د راتګ د مخنیوي لپاره د ترکیې او بلغاریا پر پوله امنیتي تدابیر نور هم سخت شي. په دغه لیک کې راغلي دي چې اروپایي ټولنه په پام کې لري چې له بلغاریا سره ۶۰۰ میلیونه یورو مرسته وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د بلغاریا پر امنیتي ځواکونو تور دی چې په سرحد کې د کډوالو پر وړاندې له تاوتریخوالي څخه کار اخلي.**

**اروپايي ټولنه غواړي چې د کډوالو د راتګ د مخنیوي لپاره د اروپا پر باندنیو پولو امنیتي تدابیر نور هم سخت شي. همدارنګه بروکسل په پام کې لري چې د کډوالو د دوسیو د ارزولو لړۍ چټکه او د هغوی د بېرته ستنولو پروسه اسانه کړي.**

**نن سبا ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د بالکان هېوادونو له لارې ځانونه اروپایي ټولنې ته ورسوي. د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۲۲ په لومړیو لسو میاشتو کې <u>د بالکان له لارې اروپا ته د راتلونکو کډوالو په شمېر کې ۱۷۰ سلنه زیاتوالی</u> راغلی دی.**

**په یو لیک کې چې <u>ستېټ واچ</u> سازمان ته په لاس ورغلی د اروپایي کمېسیون مشرې ارسولا فون دېر لین لیکلي دي چې غواړي د ترکیې او بلغاریا پر پوله د امنیتي تدابیرو د زیاتولو لپاره له بلغاریا سره ۶۰۰ میلیونه یورو مرسته وکړي.**

**په ورته مهال د بشري حقونو مدافع بنسټونو د ترکیې او بلغاریا پر پوله د امنیتي تدابیرو پر زیاتېدو نیوکه کړې ده. له دې وړاندې بلغاریا کې د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه بېلابېل راپورونه خپاره شوي دي. ډېری کډوال وايي چې**

شخصي وسایل یې غلا شوي، زندان ته اچول شوي او یا هم هغوی ته اجازه ورکړل شوې نه ده چې بلغاریا کې د پناه غوښتنه وکړي.

ترانزیټ هېواد

بلغاریا چې د ترکیې، یونان، شمالي مقدونیې او صربیا سره ګډه پوله لري د ترانزیټ هېواد په توګه پېژندل کېږي. کډوال معمولاً د بلغاریا له لارې لوېدیځې اروپا ته د رسېدو هڅه کوي.

په تېرو څو کلونو کې بلغاریا کې د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګڼ راپورونه خپاره شوي دي. د ۲۰۲۲ په مې میاشت کې کامروني کډوال نارسیس نکانچوپ کډوال نیوز ته د خپل سترګو لیدلی حال بیان کړی و. نوموړی بلغاریا ته د ننوتلو پر مهال د پولیسو له خوا نیول شوی و.

هغه کډوال نیوز ته ویلي وو: «پولیسو موږ ته وویل چې په ځمکه کېنو. زموږ پیسې او تلیفونونه یې ونیول او موږ ته یې وویل چې خپل کالي وباسو... هلته درې کډوالې هم وې... [پولیسو] دغو ښځو ته وویل چې دوی هم باید خپل کالي وباسي . بیا یې جنسی تېری پرې وکړ«.

علي حسیني یو بل کډوال دی چې د فرانسې خبري اژانس ته د خپلو سترګو لیدلی حال بیان کړی دی. دغه افغان کډوال د ۲۰۲۱ په اپریل میاشت کې د یونان د موریا کمپ تر ویجاړېدو وروسته د اروپا د بیا مېشتوني پروګرام له لارې صوفیا ته ولېږدول شو .

علي حسیني د ۲۰۲۲ په لومړیو میاشتو کې له خپل ورور سره یو ځای د پولې پر لور روان شو. هغه وایي» :درېو بلغاریایي پولیسو چې نقابونه یې اغوستي وو موټر کې سپارو کړو. په ځنګل کې یې زموږ پیسې، کالي او بوټان ونیول او ترکیې ته یې وشړلو«.

نو نېم کېچن هغه سازمان دی چې له ۲۰۱۷ راهیسې د بالکان پر مسیر د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې ثبتوي. شپاړلس کلن شاکر چې د افغانستان تبعه دی دغه سازمان ته ویلي دي چې په سړه هوا کې یې پولیسو کالي ایستلي او په لوڅ حالت کې یې ترکیې ته اخراج کړی.

بیا ولولئ :اروپایي ټولنې د ناقانونه کډوالۍ سره د مبارزې لپاره نوی پلان وړاندې کړی

»کډوال نه غواړي د بلغاریا له لارې سفر وکړي«

د نو نېم کېچن د عامه اړیکو مسوله بارابا بېکارېس کډوال نیوز ته وایي: «ځینې کډوال موږ ته وايي چې د تاوتریخوالي له امله نه غواړي چې د بلغاریا له لارې سفر وکړي.» د مېشن وېنګز فونډېشن مشرې دیانا دیموو‌ا په وینا، له ۲۰۱۸

راهیسي د ترکیې او بلغاریا پر پوله د کډوالو پر وړاندې «تاوتریخوالی زیات شوی دی». د رسمي شمېرو له مخې، د تېر کال په جریان کې بلغاریا ته د ۱۶۴ زرو کډوالو د ننوتو مخه نیول شوې ده.

د لایټ هوز ټولنې او څینو رسنیو موندنې ښیي چې د ۲۰۲۲ د اکتوبر څخه د نومبر تر ۱۵مې نېټې پورې لږترلږه ۳۴ کډوال د بلغاریا په یوه کندواله کې ساتل کېدل.

خبریالانو له څینو هغو کډوالو سره مرکې کړې دي چې په دغه ځای کې ساتل کېدل او وروسته بیا ترکیې ته وشړل شول. دوی چې د افغانستان او سوریې اصلي اوسېدونکي وو رسنیو ته ویلي وو چې خوړو، اوبو او تشنابونو ته یې لاسرسی نه درلود.

بلغاریا غواړي چې د اروپا په شېنګن حوزه کې شامله شي، خو دوه میاشتې مخکې یې غوښتنه د کډوالو د شمېر د زیاتوالي له کبله رد شوه .

## لیتوانیا می‌خواهد که فرانتکس در حفاظت از مرزهایش با بلاروس سهم بگیرد

مهاجرنیوز



با توجه به نگرانی نسبت به عبور فزاینده پناهجویان از مرزهای بلاروس، لیتوانیا می‌خواهد که از آژانس محافظت از مرزهای خارجی اتحادیه اروپا بخواهد تا در حفاظت از مرز مشترک لیتوانیا با بلاروس کمک کند.

قرار است سران کشورهای عضو پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) از ۱۱ تا ۱۲ ماه جولای سال روان در شهر ویلنیوس، پایتخت لیتوانیا گرد هم بیایند. لیتوانیا که میزبان این نشست بزرگ است، می‌خواهد افزون بر نقش گیری نیروهای ملی این کشور، از آژانس محافظت از مرزهای خارجی اتحادیه اروپا بخواهد که در محافظت از سرحدات این کشور با بلاروس سهم بگیرد.

اگنه بیلوتایت، وزیر امور داخله لیتوانیا پس از دیدارش از مرز مشترک با بلاروس که او را هانس لایتنس، رئیس آژانس حفاظت از مرزهای خارجی اتحادیه اروپا نیز همراهی می‌کرد گفت "حفاظت از مرزها باید تقویت شود تا از تحریکات احتمالی و جریان فزاینده عبور مهاجران نیز جلوگیری گردد".

مرتبط:آغاز پروژه های امتحانی برای محافظت از مرزهای بیرونی اتحادیه اروپا

خانم بیلوتایت افزود که آنان با پولند و لتونی هم در مورد کمک های حمایتی فرانتکس گفتگو کرده اند. وزیر امور داخله لیتوانیا افزود که در حال حاضر، ۱۸ افسر فرانتکس از گارد مرزی لیتوانیا حمایت می‌کنند.

رئیس فرانتکس در پاسخ به احتمال افزایش نیروهای شان به گونه طفره‌آمیز واکنش نشان داد .رسانه های لیتوانیا به نقل از هانس لایتنس گزارش داده اند که گویا او گفته است که فرانتکس می‌خواهد به درخواست لیتوانیا به بهترین شکل ممکن پاسخ بدهد.

لیتوانیا حدود ۶۸۰ کیلومتر مرز مشترک با بلاروس دارد. در پایان تابستان و آغاز فصل خزان سال گذشته، هزاران مهاجر تلاش کردند که از طریق بلاروس وارد قلمرو اتحادیه اروپا شوند.

بیشتر بخوانید:رهبران اتحادیه اروپا درباره اقدامات سختگیرانه تر برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی به توافق رسیدند

اتحادیه اروپا مدعی است که الکساندر لوکاشینکو حاکم بلاروس، مهاجران را به گونه سازمان یافته از کشورهای بحران زده به مرزهای اتحادیه اروپا می‌کشاند. با این همه، دیده می‌شود که در این اواخر رقم پناهجویانی که تلاش می‌کنند از این طریق وارد کشورهای عضو اتحادیه اروپا شوند، به گونه چشمگیر کاهش یافته است.

## شش تن از یک بازداشتگاه اداری در جنوب فرانسه فرار کردند

مهاجرنیوز



شش مهاجر موفق شدند که از یک بازداشتگاه اداری افراد در حال اخراج در جنوب فرانسه فرار کنند .نگهبانان توانستند دو تن دیگر را در محوطه باز داشتگاه و یک تن دیگر را در یک شهر مجاور دستگیر کنند اما پنج تن باقیمانده فرار کردند.

به گزارش تلویزیون سی نیوز فرانسه، بامداد روز یکشنبه ۲ اپریل، هشت مهاجر که در بازداشتگاه اداری شهر سِت به سر می‌بردند تلاش کردند با استفاده از مشکل الکترونیکی یکی از درهای بازداشتگاه، فرار کنند.

این مهاجران هنگام فرار از یک مانع فلزی بالا پریدند و خود را به محوطه بازداشتگاه رساندند. نگهبانان توانستند دو تن از مهاجران را بلافاصله بازداشت کنند اما شش مهاجر دیگر از دیوار بازداشتگاه که سه متر ارتفاع دارد، بالا رفتند و فرار کردند. پولیس بعدتر موفق شد که یک فرد سومی را در شهر اگد دستگیر کند.

یک سندیکای پولیس گفته است که نگهبانان بارها نسبت به مشکل الکترونیکی یکی از درها در طبقه اول بازداشتگاه به مدیریت هشدار داده بودند. به گفته این سندیکا در شب فرار بازداشت شدگان تعداد کافی نگهبانان در بازداشتگاه توظیف نشده بودند.

بازداشتگاه‌های اداری در فرانسه معمولا از مهاجران و افرادی نگهداری می‌کنند که در حال اخراج به سر می‌برند.

در همین زمینه :فرانسه: سال گذشته اتباع خارجی غیرقانونی، بدون تشخیص در بازداشت اداری قرار گرفتند

بربنیاد قانون، افرادی که در بازداشتگاه‌های اداری نگهداری میشوند، کسانی هستند که به دلیل نداشتن مدارک قانونی و یا در مواردی، به دلیل خلاف رفتارهای های جرمی، حکم ترک خاک فرانسه را دریافت کرده‌اند.

سازمان‌های مدافع مهاجران و خارجیان همواره از چگونگی بازداشت و شرایط نگهداری مهاجران و خارجی‌ها در این بازداشتگاه‌ها انتقاد کرده‌اند. در ماه مارچ ۲۰۲۲، پنج سازمان خیریه در گزارشی نوشتند که در سال ۲۰۲۱، بیشتر بازداشت‌ها اغلب »ناموجه و نامتناسب« بوده‌اند.

در سال ۲۰۲۱، فرانسه، اولین کشور اروپایی بود که بیشترین حکم الزام ترک خاک این کشور (OQTF) را صادر کرده بود. طی همین سال، ۴۲۳۵۳ نفر که در وضعیت غیرقانونی قرار داشتند، در بازداشتگاه‌های اداری نگهداری می‌شدند.

## یک پناهنده سوریایی شهردار یک قریه در آلمان شد

دویچه وله



یک مرد سوریایی در سال ۲۰۱۵ به دلیل جنگ از کشورش فرار کرد و به آلمان پناه برد. حالا ساکنان یک قریه ۲۵۰۰ نفری، او را به عنوان شهردار منطقه‌شان انتخاب کردند

ریان الشبل، پناهنده ۲۹ ساله سوریایی در جریان اوج درگیری در کشورش ناگزیر شد که کشورش را هشت سال پیش ترک کند و وارد آلمان شود. حالا باشندگان منطقه اوستلسهایم در ایالات بادن وورتمبرگ تصمیم گرفتند که او را به سمت شهردارشان انتخاب کنند. این مرد توانست که در انتخابات روز یکشنبه، ۵۵.۴۱ درصد از آرا را به دست آورد و مسئولیت امور منطقه ۲۵۰۰ نفری را به عهده گیرد.

**هرچند الشبل به گونه خصوصی، عضویت حزب سبزهای آلمان را دارد، اما در این انتخابات به عنوان نامزد مستقل حضور یافته بود.**

**شهردار کنونی منطقه اوستلسهایم به خبرگزاری آلمان (دی پی آ) گفت که انتخابات "فوق العاده مثبت" بود.**

**رایان الشیبل کیست؟**

**تلویزیون محلی (SWR) گزارش داده است که شهردار اوستلسهایم زمانی که ۲۱ ساله بود، شهر سویدا را در سوریه ترک کرد تا از خدمت سربازی در جریان جنگ داخلی در کشورش، اجتناب کند.**

**مرتبط:پناهجوی افغان که در آلمان کارآفرینی موفق شد**

**او سرانجام با عبور از بحیره مدیترانه به آلمان رسید و زبان آلمانی را در این کشور فرا گرفت. افزون بر این، الشبل یک دوره کارآموزی را در بخش مدیریت نیز سپری کرد.**

**در سال ۲۰۱۵، صدها هزار سوریایی به دلیل جنگ از کشورشان فرار کردند و بیشتر آنان وارد آلمان شدند.**

**این پناهنده سوریایی هنگامی که در شورای محلی در نزدیک شهر آلت هنگشتد، کار می‌کرد، توانست که شهروندی آلمان را به دست آورد.**

**رسانه‌ها گزارش داده اند که الشبل به احتمال زیاد اولین شهردار با ریشه سوریایی در ایالت بادن-وورتمبرگ است و شاید هم حتی اولین نامزد با این مشخصات در آنجا بوده باشد.**

## در بیش از یک سال ۱۴۵ شهروند افغانستان در مسیرهای غیرقانونی مهاجرت جان باخته اند

سلام وطندار



بر اساس بررسی سلام‌وطندار، در جریان بیش از یک سال گذشته، در ۱۴ رویداد، ۱۴۵ شهروند افغانستان در مسیرهای غیرقانونی مهاجرت جان باخته و ده‌ها تن دیگر زخمی شده یا آسیب دیده اند. با این که از چندین دهه به این سو، مهاجرت‌های غیرقانونی از حقیقت‌های پذیرفته‌شده‌ی جامعه‌ی افغانستان است؛ اما پس از روی‌کارآمدن امارت اسلامی، این روند سرعت بیش‌تری گرفته و ده‌ها قربانی از خود بر جای گذاشته است.

در نخستین رویدادها در شش ماه نخست حاکمیت امارت اسلامی در ۱۴۰۰، در سه رویداد، پنج شهروند افغانستان در مسیرهای غیرقانونی مهاجرت جان باخته اند که چهار مورد آن، در مرزهای ایران ثبت شده و یک مورد دیگر، در مرز مقدونیه به ثبت رسیده است. همین گونه، در این مدت، نه شهروند افغانستان زخمی شده و دو کودک نیز از شدت سرما آسیب دیده اند.

سلام‌وطندار فارسی را در فیسبوک دنبال کنید

در سال ۱۴۰۱، ۱۴۰ مهاجر افغان در ۱۱ رویداد در مسیرهای غیرقانونی مهاجرت جان باخته اند. بیش‌تر این رویدادها در ایتالیا، بلغارستان، ایران و مرز ایران و ترکیه، ثبت شده و علت مرگ بیش‌تر این پناه‌جویان، غرق‌شدن قایق حامل آن‌ها، نرسیدن اکسیژن و حبس‌بودن فضا، برخورد موترهای حامل پناه‌جویان و گلوله‌باری از سوی نیروهای مرزی، بوده است.

خبرنامه